

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوربند
اونیزه

رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَــلَداً آمِناً

دور سوم شمارهٔ هفدهم، ۱۹ اسد، ۱۳۹۸


## نیولیک


له دې لوربینې تېر/ ۲
زما وزګارتیا؛ دوو نوماندانو څه
کار رکوه.؟!/ ۳
وزیرستان: یوه ټوکه، یو
حقیقت/ ۴
دولت‌ساز، که تابوت‌ساز ټیم/ ۴
د کرمي بایلات/ ۵
د علم و جهل ځلی/ ٦
یو څو پوښتنې!/ ۷
زه یې هوښیاری ته سلام کوم/ ۸
دوې لسیزې یوه چوکۍ/ ۱۰
تور او سپین صنعت/ ۱۱
څوک د پوښتنې نشته/ ۱۲
د سپاه‌سالار
محمد نادر خان
لیک/ ۱۲


## اوربند

د تلپاتې سولې لومړی ګام
اوربند؛ د ملي جرګې یواځینی شرط دی
اوربند؛ د روغې جوړې پیلامه ده
اوربند؛ د جګړې مخنیوی دی
اوربند؛ ملي غوښتنه ده
اوربند؛ د هر افغان غږ دی
اوربند؛ د هرې مور هیله ده
اوربند؛ ملي اړتیا ده
اوربند؛ ټیکاو دی
اوربند؛ د سوکالۍ لوری دی
اوربند؛ د بسیاینې لار ده
اوربند؛ د پرمختګ اساس دی
اوربند؛ ژوند دی
اوربند؛ له مرګ سره مبارزه ده
اوربند؛ د بربادۍ مخنیوی دی
اوربند ټینګ کړئ، له اوربند سره کېنئ، پر اوربند راټول شئ.

بسم الله الرحمن الرحیم

### سرلیکنه

## سوله لومړیتوب دی

په شریعت او عُرف دواړو کې سوله اصل دی. د سولې د مخنیوي هڅه توطئه ناکامه ده، هېڅ دغه ناکامه تجربه نه ده بریالۍ کړې.

اته کاله دمخه پخواني ولسمشر حامد کرزي سولې ته د خپل ضد او ځېل په پاټک اچولو دغه پروسه ځنډنۍ کړه، خو مخه یې ډب نشوای کړای.

ددغه ډب حقیقت دده د شړېدلي واک احتمالي ننګونه وه، خو ده دوه متره سپین ټوکر چې مقدسه کلمه پرې لیکل شوې وه، ملي وحدت ته د ګواښ درواغجنه پلمه وګرځوله، په دې اتو کالو کې چې څومره افغانان وژل شوي ددې ټولو پړه دده پر غاړه ده. د کونډو، یتیمانو، زخمیانو ازار به په دنیا او اخرت دده د غاړې زېندس ګرځېدلي وي.

دده حکومت او امریکا چې په هېواد کې دننه د طالبانو د حاکمیت په سیمو کې د سلګونو دغسې بیرغونو مخه نشوای نیولی، په قطر کې د یوې ودانۍ تر مخ پر سپین ټوکر سپېڅلې کلمه شریفه د سولې پر وړاندې د خپل واک د دوام په موخه هغسې پلمه او توطئه وګرځوله چې جګړه یې اتو نورو کالونو ته اوږده کړه او د بیرغ او موقت حکومت په ګډون هر هغه څه منې چې پخپله واکمنۍ کې یې ملي وحدت او ځمکنۍ بشپړتیا ته ګواښ معرفي کاوه...

اوس هماغسې تېروتنه، تېر اېستنه، بلکې د سولې پر وړاندې د خپل واک د دوام لپاره توطئه ولسمشر غني را مخې ته کړې ده.

ده دغه توطئه د ټاکنو په پرده کې نغښتې چې له امله یې د سولې لپاره را منځته شوې فرصتونه یو په بل پسې له لاسه وځي، خو دی د واک د احتمالي دوام چانس نشي پرېښودلی.

څرنګه چې خلک د کرزي پر هغه ډرامه قضاوت کولی شي، د غني پر دغه توطئه یې هم سرونه خلاص دي، د تاریخ قضاوت همدغسې بې رحمه را وځي. د تاریخ قاضي د واکمن خوښې ناخوښې، زور، زرو او د سترګو اشارې ته نه ګوري، بلکې له دې ټولو پورته خپله پرېکړه اعلانوي.

سوله ملي غوښتنه، د ملت اجماع او د الله تعالی امر دی. د سولې لومړیتوب څرګند دی، دغه لومړیتوب هېڅ لوری او ځواک نشي ننګولی.

ټاکنې هدف نه، وسیله ده، که د ټاکنو روڼوالی، امنیت، سرتاسري‌توب خوندي نکړای شي، د تېر په څېر به د ملت پر اراده یو ځل بیا ډاکه غورځېدلي وي. که ارګ په سوله کې د واک د دوام حرص او د اقتدار د هوسۍ هیلې نشي رېژولی او پخپله خوښه د ټاکنو له ډېزاین سره د خپل اقتدار مراندې ترلې ګڼي، باید پدې پوه شي چې افغانان له هر څه دمخه سوله غواړي، سولې ته ژمن دي، سوله او پخلاینه یې خپل لومړیتوب ګرځولی. دا سوله ده چې رڼو، ازادو، سرتاسري او خوندي ټاکنو ته مخه پرانیزي.


امتیاز



افغانستان

چلوونکي



افغانان

خپرندوی

دانش خپرندویه ټولنه

اړیکي

+93 (0) 788042821 - 0700639383

برېښلیک

spinsahaar@gmail.com

بیه

۲۰ ؋





# له دې لوړېينې تېر

**شهرت ننګيال**

**زه خپل ځان ته وايم، زه ځان ته مخاطب يم، څوک دې خوا نه درنوي، څوک دې يې ځان يا بل ته اشاره او کنايه نه ګڼي.**
**داسي نه دهٔ چې در تُرا ميګم، ديوار تو بِشنو. بلکې نېغ پر در غړ کوم او دغه در زه خپله يم.**
**زه تاسي ته يوه بله د راز خبره کوم، دا زه چې څه ليکم دا ټول خپلو ګناوو، خطاوو، کمزوريو، تېروتنو، منافقتونو او خباثتونو ته په کتو ليکم، دا ټولې ګناوې زما خپلې دي، ماته د خپلو ګناوو- تور مخيو پته ده، زما ټولې نيوکې زما ذ خپلو ګناوو- تور مخيو زېږنده دي.**
**خير که د «ته» او «تا» په صيغه مې بل مخاطب ګرځولی، خو حقيقت دا دی چې زما پينځه واړه ګوتې خپل ځان ته لکې دي.**

دا دروا‌غ ده، ته د نظام دفاع نه کوې، ته د خپلو ځاني ګټو په غم ککړ يې، دا ډېره بده او بوينه چټلي ده، څکه ته نور په دغه چټلي کې ډکي وهلو ته لمسوې چې له امله يې د مرداريو بوی تر لېرې په ځخېدا دی. يوازې ماته نه، تاسې ته هم ښايي د حکومت د افراطي ملاتړ او دښمنی تر کچې غوړېدلي مخالفت لاملونه څرګند وي. هغوی چې په حکومت کې يې د ګټو ونډه غوښنه او له بې خرته امتيازونو برخمن دي، خپلې روا ناروا ګټې د حکومت تر سيوري لاندې خوندي ګڼي د حکومت پر بې پولې ننګه او ملاتړ يې خپلې تورې له تېکيو را ايستلې، ولسمشر ورته له دويم مفکر اخو له احمد شاه بابا او اعليحضرت امان الله خان غوره، درونډ، سپېځلی، حتا معصوم ښکاري، څکه خو د غازي امان الله خان «د فصلِ ناتمام» د بشپړتيا لپاره د دويمې دورې پينځه کاله د مور شيدې ګڼي.
بل اړخ ته هغوی چې په دغسې امتيازونو کې خپله برخه خواره ګوري، د دښمنی ټول بريدونه يې له بېخه نړولي او ۲۴ ساعته فول ټايم د حکومت تخريب ته مورچه بند ناست دي، څکه خو نه د بدی او دښمنی پر اخلاقو سر خلاصوي، نه د دوستی او ملګرتيا اصولو ته د ژمنتيا نوک نيولی شي.
ملاتړي د نظام د دفاع پر ځای د خپلو ګټو د خونديتابه په لالهاندی اوښتي، د مخالفانو او دښمنانو خو د محروميت له درد او دوکه انتقام او غوسه سر ته ختلې، څکه چې مقام، رتبه، چوکی او امتياز د وړتيا او استحقاق د معيار له مخې نه، بلکې د «آن کارِ ديګر» پر بنسټ شخصي لوربينه ګرځېدلې ده، خو دا چې ړندو ملاتړيو لومړی دا بې خرته امتيازونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لاسه کړي، بیا د حکومت او چارواکیو رانده ملاتړ ته درېدلي او که ددغسي رانده ملاتړ وروسته یې دغسي مقامات او امتیازونه په پچه رسېدلي، هغه کیسي ته ورته معما ګرځېدلي چې لومړی چرګه پیدا شوې که هګۍ؟!

د دواړو احتمال شته، خو ځینو درېیمه لار خپله کړې، دا د افراط او تفریط تر منځ د اعتدال لاره نه ده، دوی غواړي د خپل مخالفت او دښمنۍ په زور سرکار امتیازونو ته اړ کړي، دوی ته د تورې یاري خوږه برېښي، ځکه خو یې د ورځې هم په حکومت او چارواکیو پسې ځراغونه را اخیستي دي.

ملاتړي یاران دومره وارخطا او بې صبره خېژي چې له دندې او امتیازونو په مجرد لېرې کېدا د حکومت د کاواکیو، درغلیو او فساد دوسیې پر هماغه شېبه د دوی پر وړاندې لکه خرمېږي را وټوکېږي.

او مخالفان یا دښمنان د سرکار لخوا په یوه سترګک د حکومت او چارواکیو د حسناتو تسبې او د ستاینو ډول غاړې ته واچوي.

زه ځوک یم چې له خپلو درېځو یې په شا کړای شم، خو یو حق موږ ټول لرو او هغه ځانته خوندي ګڼو چې موږ دې د خپلو ستاینو او دښمنیو په منلو او همغږۍ نه اړ باسي.

دا دې نه وایي چې زموږ لپاره یې له حکومت سره د پړې سر نیولی، زموږ په خاطر له حکومت سره د دښمنۍ پر پوله درېدلي دي.

د حکومت رانده پلویان دې هم د خپل ملاتړ او ستاینو له امله زموږ پر اوږو د نظام د دفاع احسان نه باروي.

موږ پوهېږو چې د ولسمشر له سترګو زموږ له غمه خوب نه دی تښتېدلی، بلکې د واک له جل وهلې تندې یې یو ګز ژبه له خولې راوتلې ده، ځکه خو دې د واک تینډک خوړلې منده زموږ لپاره د احسان او لورېینو پېټی نه ګرځوي. یوه تنظیمي مخور د جهاد په لومړیو کې موږ ته د خپل احسان خورا دروند پېټی تړلی و، دده په خبره چې له مېرمنې سره په دې سلا شوی چې د اولاد زېږون ته ښایي ډېر وخت وباسي... ځکه چې جهاد دی، تلفات دي، قربانۍ دي... خو دده له نیم درجن زیات بچیان له ټولو تلفاتو او انقلابونو ژوندي او سلامت ووتل، دده کمال ته ګورئ چې له خپلې مېرمنې سره یې مباشرت پر موږ خپل احسان ګرځاوه؟!!



# زما وزګارتیا؛

# دوو نوماندانو څه کار راکوه؟!

مصطفی سالک

په ټولنیزو رسنیو کې کله کله د یو شمیر نوماندانو پلویان د یو شمیر نورو نوماندانو منډه پالي په دې تورنوي چې ګواکې د پیسو په مټ یې ددغه رسنیو ګڼ شمیر کاروونکي په دې ګمارلي چې د خپل نوماند هره چاره تاید او بل نوماند وغندي، زه دا چلند تایدوم لېږ تر لږه د دوو نوماندانو د ټاکنیزو منډو ترړو دفترونو را سره اړیکه نیولې چې دواړو خپلې غوښتنې لرلې.

یو نوماند راته وړاندیز وکړ که په ټولنیزو رسنیو کې یې ملاتړ وکړم نو په میاشت کې به ۲۰ زره افغانۍ راکوي، د لږې شیبې لپاره خو مې وویل تا غوندې کس ته چې له ډېرو میاشتو راهیسې اوزګار یې دا هم یو انتخاب کیدی شي د چا ملاتړ خو به کوې دا نوماند خو هسې هم تر نورو لږ ښه برېښي. خو په څو شیبو کې مې خپله پرېکړه په زړه، زړه کې بیرته واخیسته ځکه چې دا کمپاین راته پر عدالت ولاړ ښکاره نه شو، د نوماند پلوي ملګري راته یو شرط وړاندې کړ او هغه دا چې (زموږ د نوماند هر دښمن به دې دښمن وي) له دې جملې سره مې زړه ته اندیښنې پیدا شوې، ما له ځان سره وویل چې په کمپاین کې دښمني څه مانا دښمني خو دښمني ده چې کول یې هیڅ برید نه لري، د یوه نوماند پلوی به ناروا وایي زه به یې هم وایم؟ یو ځوک به کنځل کوي زه به یې هم کوم؟ او د دښمنۍ په تعریف کې خو تاو تریخوالي ته هم ځای شته! دا یې هم راته وویل چې ته به یوازې نه یې ګڼ شمیر ملګري به درسره وي چې ټول د یوه دفتر له خوا کنترولېږي.

دلته مې هغه ستغې سپورې او کنځل سترګو ته ودریدې چې په فیس بوک او نورو ټولنیزو رسنیو کې مې له پامه تیرې شوې وې.

خبره به څه اوږدوم له ملګري مې مننه وکړه او د داسې ملګرتیا بښنه مې تری وغوښته.

اوس به درته د دویم نوماند خبره وکړم یوه ملګري د هغه دفتر ته معرفي کړی وم او ورته یې ویلي وو چې دغه کس وزګار دی، د نوماند د کمپاین یوه چارواکي راته وویل چې ته خو وزګار یې یو اسانه کار به درته وسپارو او هره میاشت به ۴۵ زره افغانۍ درکوو.

ما ورته وویل چې کار به مې څه وي؟ ویل یې په رسنیو کې زموږ د نوماند دفاع کوه، چې رسنۍ کله د دفاع لپاره ځوک غوښت ورځې به، خیر دی هلته زموږ د نوماند نوم مه اخله چې زه ورته کار کوم خو موږ او تاسو به په خپلو کې پوهیږو، ده هم راته وویل چې ته یوازې نه یې له موږ سره ګڼ نور د پوهنتونونو استادان، روشنفکران او لیکوالان هم شته، دا نوماند بیخي زما خوښ نه و! خو خیټه هم څه غواړي چې خپل تش جیب ته مې وکتل نو ورته مې وویل سمه ده خو زه باید نن شپه په دې اړه فکر وکړم سبا به د هو یا نه ځواب درکوم، هغه هم راسره ومنله او رخصت یې واخیست، خو پېښه دا شوه چې د تلیفون له ایښودو سره دا دنده هم پاتې شوه!

مېرمن مې راته وویل د چا تلیفون و؟ ما ورته ټوله کیسه تېره کړه! راته یې وویل چې دا دنده به نه منې! ځکه چې له دې سره ستا د څه دپاسه ۳۰ کلونو فرهنګي او د ۲۰ کلونو خبریالیزې لاس ته راوړنې په اوبو لاهو کیږي او ته به نور دومره عمر ولرې چې ملت ته دومره کار وکړې؟ او ایا بیا به ستا کار تاته دا مقام په برخه کړي چې ته یې اوس پخپله ټولنه کې لرې؟ موږ نهر ښه یو خو دا کار مه کوه.

نو له دې دندې هم تېر شوم، او علت یې هم څرګند شو.

له دې تجربې راته څرګنده شوه چې زموږ ګڼ شمېر روشنفکرانو د قلم رسالت نه دی درک کړی ددې لپاره چې مشروع سیاست دود کړي د ځوان پوړ ذهنونو باندې کار وکړي او جوړ یې کړي اپوټه د څو پیسو لپاره هغه څه کوي او لیکي یې چې خپله به هم پرې باور ونه لري، چې دې حالت ته ګورم د ځوانانو راتلونکې ذهني افق راته ډېر تیاره ښکاري، ځکه چې روشنفکران یې د جوړولو پر ځای د ړنګولو لپاره قلم چلوي او خبرې کوي. په سمه مانا موږ په افغانستان کې لږ شمېر روڼ اندي او روشنفکران لرو هغوی چې د ایډیاوو په اړه فکر کوي او پرته له تعصبه کره فکرونه له کوټه فکرونو بېلوي ډېر یې لکه د ګاډۍ اسونه یوازې هماغه لارهویني چې نوماندان یې ورښیي.

که دا د ډالرو سیاست روان وي دا به د افغانستان سیاست په ناسمه لار روان کړي او دا چې په خواله رسنیو کې د ډېرو اکاونټو لرونکي نه پېژندل کېږي د استدلال ځای به کنځل ونیسي چې دا چاره وار له مخه پیل شوې.

د کنځلو دودېدل به یو بل زیان ولري او هغه دا چې ګڼ ربښتوني روشنفکران به د خپل عزت د ژغورلو لپاره غلي پاتې شي، دوی به دا وړتیا لري چې د ولس د ذهنونو روښانولو په موخه د نوماندانو تګلارې و ارزوي او کره، کوټه بېل کړي خو له کنځلو د ژغورل کېدا په موخه به غلي پاتې کېږي یا به محافظه کاري کوي او خپلې خبرې به دومره ایډیټ کوي چې خپل اصالت به له لاسه ورکوي.

همدا راز دا کنځل یا کنځلو ته ورته خبرې به د روشنفکرانو تر منځ د کینې تخم شیندي او ان سیمه‌ییزو قامي او ژبنیو توپیرونو ته به لمن وهي.

په ټوله کې د نوماندانو له خوا لیکوالان کرایه کول د افغانستان سیاست یوه ناطبیعي او دروغجن لوري ته مخ کوي چې ددغه هېواد لوړې ګټې زیانمنوي.

همدا راز په دې کمپاین کې به د هغه چا غږ لوړ وي چې ډېرې پیسې په واک کې ولري چې دا هم یو ناولسواک چلند دی.

بله دا چې دغه راز کمپاین سیاسي او ټولنیز اخلاق فاسدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وزیرستان: یوه ټوکه، یو حقیقت

**د اوباما د سپیني ماڼۍ د فاټا چارو مشاور ډینیل مرکي پخپل فاضل اثر No Exit From Pakistan کې لیکلي، دارالعلوم حقانیه پر ډیورنډ کرښه ده.**

**په دې ما تصحیحي یادونه وکړه کله چې د مولانا فضل الرحمن غوړونو ته ورسېده پیغام یې را ولېږه چې فاټا د نړۍ تر ټولو مظلوم ولس دی، پوهې او څواک، ریاست او قلم ټولو ورسره تر میرې مور هم بد چلند کړی، تر څنګ یې دا ټوکه لیکلې وه:**

**د پیپلز ګوند د وخت بهرنیو چارو وزیر په پارلمان کې د پوښتنو د ځوابونو پر مهال وپوښتل شو، آیا وزیرستان په واڼا کې دی؟**

ل: رشید یوسفزی

ژ: تاند

وزیرستان واڼا کې دی یا نه، پاکستان کې خو بېخي نه ایسي، پرله‌پسې ریاستي پالیسیو نه همدا حقیقت تر سترګو کېږي چې د ښکلو او غیرتي خلکو ښایسته او سخته سیمه وزیرستان یوه لېږې پرته پاکستان یرغمل کړې خاوره ده چې پکې مېشت خلک مسلمانان نه، بلکې پردی کافر(!) مخلوق دی..!

اسلامي جمهوریت پرې قبضه کړې ده او سرې یې بندیان او ښځې یې لونډې دي چې پاکستاني مسلمانانو په جهاد کې نیولې ورسره هر ډول قساوت او په بې دردۍ مخ کېدل کټ مټ ثواب کې حسابېږي.

یوه منظمه ریاستي ماشینري د وزیرستان په اړه دا ډول لوېدلې پروپاګند کوي، ددې لپاره چې څوک له وزیرستانیانو سره خواخوږي هم ونکړي.

د نن وزیرستان بېخي د کربلا غونډې دی د تش بېړني حالت ( کرفیو) په پلمه هلته ناروغان، بوډاګان، ماشومان او مېرمنې له تندې او لوږې او ناروغیو مري.

د پاکستان خو ورسره اړیکه جلا ده، خو پښتانه هم داسې غلي دي ته وا وزیرستان هېڅ په پښتونخواه کې نه دی!!

د وزیرو، محسودو او داوړو خویندو ورونو د نهیلي پر وړاندې د پښتنو د بې ننګۍ او بې غیرته خاموشۍ له امله مو پښتو د پېغور او تېټ سري شوه!

یو بېوسه او بې څوکه پښتون تاسې ته همدا مشوره درکولی شي چې تاسې افغانستان ته هجرت وکړئ، ځکه نوي استعمار ته یوازې ستاسې له معدنونو او کانونو ډک غرونه پکار دي- ستاسې د جسدونو په کیسه کې نه دی!

## دولت‌ساز که تابوت‌ساز تیم؟!!

اسد دانش

یو ملګری مو د ماربلو کار کوي، نن راغلی و کیسه یې کوله:


کارونه مو یو مخ ولاړ دي، کوم مال مو چې راغلی وي هغه په میاشتو په ګمرک کې ولاړ وي، دلته د کاریګرو او ځي کرایې را بأندې ورځ په ورځ بوج کېږي...

ویل یې، تر څنګ مو هزاره‌ګان د ماربلي قبر جوړوني کار کوي، ما ورته وویل، در این روزها فقط کار شما خوب روان است، ما قرار شستیم، شما هستید که همه کارها را گرفتید!




ویل یې، هزره ملګری مې خپه هم شي، چې څه وکړو، دلته د ژوند بازار بند او د مرګونو دوکانونه یو مخ خلاص دي، زموږ د غني افغانستان خوب دروغ شو، یوازې د مرګونو لړۍ ښه اوږده وغځېدله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرمي بايلات

**ملا جانان میرخېل**

د اوښ یوه بدبختي دا ده چې پخپلو متیازو کې ښويېږي، بله هغه چې مهار يې په خره پورې تړل شوی وي.

خو زه پخپلو غولو کې ښويېدلی يم، که څه هم د ډېرو مايه اوښانو د مهار تړلو حق مې له ځان سره خوندي ساتلی، خو ځان مې له دغسې تيندک ونشوای ژغورلی. دا لومړی ځل نه دی چې له دغسې نخرې يا تجربې سره مخامخېږم او نه به هم دا زما وروستی تجربه وي چې زما ژوند تجربه، تجربه دی، بلکې ژوند او د ژوند مدار مې ټول پر تجربو را گرځي. ډېرو سره به دا پوښتنه را ولاړه شوې وي چې کومه تجربه؟!

دمګړی د ښويېدو پر تجربه بحث کوو او نورې هغه يار زنده صحبت باقي ته پرېږدو، په ښويېدو کې زما قصور دومره نه دی، لکه د وزير+ سفير صاحب چې دی، زه دده غوړو- پستو خبرو تباه کړم، د وعدو- وعيدو د سرېښو په ډنډ کې يې ونښتم، د ناکامۍ دا توره شپه دده له لاسه را باندې راغلې ده چې له امله يې اوس خپلو بچيانو ته هم د نېغ کتلو سترگې نشم لرلی...

د اوسنۍ زمانې اولاد دی، نه چل ورسره کېدلی شي، نه پر درواغو ورسره چلېدلی شې، په گېډه کې دې کولمې گزوي، د جاسوسانو په څېر درپسې لگېدلی وي، زموږ خلک دومره ورځچاري، خدای وهلي، شيطان شرمولي دي چې واک، چوکۍ درنه ولاړه شي، لکه باد دې چې ختلی وي، ډر ته دې هم داړو جينگولو ته نشي چمتو کېدلی. د مېرمنې او بچيانو پر وړاندې دې هم ټس پوکنۍ چاودلې وي. د غولولو په دوسيو کې دا زما لومړنی کېس دی، له غولولو که په چاپي تېروتنو کې لومړی لام له کمپوز پاتې شو، ما خپلې غاړې خلاصې کړې.

زه تراوسه هېڅ‌ا نه وم غولولی، خو د وزير+ سفير غولوَنه داسې وه چې تر ډېره ما فکر کاوه چې گنې وزير+ سفير غولېدلی دی، چې زما غولولي اوس هم په کامه کې د گوړې په پلور ساه تيگا وهي، ستمی يې خېژي.

زما تر شا د غولولو تاريخ پروت دی، ما دغه ټرېنينگ يا تمرين له ځوانانو پيل کړ، وايي، که کوټه وسوځېده دېوالونه يې پاخه شول، ځکه خو اوس په دغه ساحه کې دوی خود کِفا او پر ځان بسيا دي، پر نيمزالو او بوډاگانو مې هم دغه زهر وازمويل، خو د ځوانانو وينه توده وي، ځکه خو يې په رگو کې ښه ځغلېدلی شوای.

اوړه دې پر اوړه، منت دې پر څه؟ که ده وزارت- سفارت وهلی، ما د ولايت- وزارت په پچه له ختلو د ډيلي په ننداره وخت اړولی، په دې کې موږ خپلو کې په يو ډول پټ رقابت او سيالي کېوتي وو، زما د برې او گټنې چانس څرگند و، خو دده په خبرو کې جادو و، ده به چې خوله چوله کړه داسې منظرکشي يې کوله لکه کوم مستند فلم چې پر لوی سکرين گورې. داسې نقشه يې درته کښله چې هره کرښه يې ارگ ته غځېدلې، مقام ته د رسېدو لاره يې درته ښودله، دومره څرگنده چې نېغ يې د ا رگ پر ختيزه دروازه ننېستلې.

د ارگ شمالي دروازه د سقاو له وتلو تړلې پاتې ده، برهان الدين رباني چې په کومه دروازه وتلی، د هغې پته نه ده ته لگېدله، نه ماته.

وزير+ سفير چې استعفا ورکړه، لومړی غږ يې پر ما و چې گويا ماتې يې گډه کړه، خو ماته مې والد محترم ويلي وو چې د لښکر يا فتحې په سر کې مه ځه، د ماتې په پای کې، ځکه خو ما هم وار وړومبی کړ او د ماتې له پای مې يو ډول ځان وژغوره.

زما د شامې حس دومره قوی و چې د نوي واکمن له راتلو دمخه مې د هغه بوی حس کولی شوای، دغسې مې د چارواکيو له تلو هم دغسې يوه بوی سپېږمې تخنولی شوای، ځکه خو له ټولو وړاندې ما د عزل او نصب د جړې ماشوړې سر موندلی شوای...

وزير+ سفير ماته د خپلې زايچې په ښودلو ثابته کړه چې د ولسمشر ستوری په گردش کې دی، څرنگه چې ما د بايلات کومه مخينه نه درلوده، ځکه د احتمالي زيان سودا ته نشوای چمتو کېدلی.

زه هډو ددې خبرې قايل نه يم چې گويا گټه په تاوان کې ولټوم، دغه فارمول ماته سراسر ناسم او غلطِ مطلق ښکاري، زما په اند گټه د گټې په کانې تر لاسه کېدلای شي، هغه چې وايي، کانۍ، کانۍ ماتوي... درې څلور کاله چې ما په ارگ کې په کومه ښه تېر کړل په حقيقت کې ما د راتلونکې لپاره د خپلې حوصلې او ظرفيت امتحان اخيست، داسې نه وه چې خدای مه کړه احساس او عزت النفس مې بايللی و، ځکه خو په دغه ازموينه کې ځان سر لوړی ا و بريمن گڼم، که څه هم ډېرو مو تر منځ تيږې وټکولې، د ابرو، وقار او عزت النفس خبرې يې په غوږو کې را وڅڅولې، خو ما خپل زغم او حوصله نه بايلله. د کنځلو فول پروف پوست را باندې غوړېدلی و، لکه زغره‌وال

(c) ketabton.com: The Digital Library

گاډي د سپکو، سپورو مردکیو هیڅ خوله نشوای را باندې لګولی...
ما ثابته کړه چې د خان لخوا خربښو څومره لوی ویاړ او اعزاز دی، دا د سولې عالي شورا برکت دی چې ما کې یې د زغم او صبر زړی په لویه او ګوره ونه وا ړاوه چې ټول عمر به یې تر یخ سیوری لاندې د خوند سترګه پټه کړای شم.
له وزیر+ سفیره زما ګیله دا ده چې د څو کالو دا ټوله خواري او لاسته راوړنه یې را څخه په سیند لاهو کړه. دده زړه و د ګوډ پېري بند را وتړي، خو له هغه سره ما دمخه په ارګ کې ګوتې لګولې وې، ده زه برناکه خپلې فتح خانۍ او د شپېتو برېښو ننګونې ته ګواښ پېژندلم، خو په حقیقت کې همدا ګوډ پېری د ولسمشر په رګو له ورننوتو هغه تور مار ګرځېدلی و چې پر سر به دې واهه په لکی جګېده چې پر لکی به دې واهه پر سر به درته درېدلی و.
د ارګ ټول نومونه او شخصیتونه مستعار او جعلي دي. ډېرو یې په همدغو مستعارو او جعلي نومو او شخصیتو موقعیتونه نیولي دي.
ډېری مستعار نومونه له څناورو او کومېډي فلمونو او ډرامو څخه په پور اخیستل شوي، لکه خرش پرش، جرلنډو، بجاج، خو ځیني د ارګ د متفکرو مغزو تخلیق دی لکه غرتاوو، ډوزمار وغیره وغیره چې مانا او مفهوم یې د لغاتو په کتابو کې هم نشي موندل کېدلی.
د زیان دغه سودا هغه مهال زما د غاړې غور، د پوزې پېژوان او د دار پړی وګرځېد چې پر ولسمشریزو ټاکنو د شکونو لړی وغوړېدې او شکاکانو خپل ایمانونه په دغسې ګومانونو وزیانول.
خو وزیر+ سفیر په دې ډاډه و چې پخه پټه یې میدان ته نه ده را ایستلې. دده پخه پټه مؤقت یا سرپرست حکومت و چې ده یې د یکي یوه نوماند په توګه په ویښه خوب لیدلی و، ځکه خو یې د مؤقت یا سرپرست حکومت له تورو نخودو زما جیبونه را ډک کړل، ماته هم دا له ټولو ګټوره سودا برېښېدله چې هم کابینه د باور د رایو له کړاو ژغورل شوې وی، هم یې اوږې د وکیلانو له دباو او ناز و نخرو سپکې وای، ماته مالومه، بلکې بقلم خود راباندې تېره وه چې د باور رایې په اخیستو کې ولایت خوړلې څه ډول په یوه وار سړی استفراق کولی شي، خو اوس چې د سرپرست یا مؤقت حکومت تمه یو څه ټکنی ده، ماته د ګاټ او کور تر منځ منډه دومره ستومانوونکي نه ده چې په حرکت کې برکت دی، همدا زما راتلونکی جوړوي، خدای او صنم دواړو ته دې رسوي.
نور زما لالهاندې پای ته رسېدلې، ابازو له را رسېدلی یم، که حکمتیار مې حکومتیار نکړ پر مخ لاړې را تو کړئ!!

# د علم و جهل څلی



د «علم و جهل» څلی د دهمزنګ په سیمه کې د پُل آرتل، توپ غونډی، د شېر دروازې د غرَه تر څنګه، د افغانستان د خپلواکۍ د ساتلو د لارې د سرغندویانو په یاد، د کابل په لوېدیځه سیمه کې د ۷ متره په لوړالي د مرمرو پر ډبرې، د ټېرې په یوه غونډۍ د ۱۳۰۴ کال د جوزا په ۲۳ نېټه جوړ شوی دی.
په دې څلي کې د پکتیا د جګړې تاریخچه او د هغو ټولو سرتېرو او قومي مشرانو چې د اماني دولت د دفاع په لار کې یې ځانونه قربان کړي وو، په لاندې توګه حک شوي دي:
«د هېواد د هوښیار او غیور ملت د زمریانو اولادونو د لوړ ارزښت لرونکیو سربښندنو په پام کې نیولو سره چې د جنوبي د سیمې له تاریکي خوښوونکیو یاغیانو سره یې په جګړه کې وکړې، کومه چې په حقیقت کې د پوهې او جهل سیالي وه او په ۱۳۰۳ لمریز هجري کال کې د اعلیحضرت، الغازي (امیر امان الله خان) د افغان ملت ژغورنکي یعنې د افغانستان پرمختګ غوښتونکي پاچا د ملي ودې او د علم و تمدن د لوړتیا غوښتنې د پروګرامونو پر وړاندې را پورته شوی و، په ټینګ هوډ او تکل د خپل دولت د شرف او درناوي د ساتنې په موخه د بغاوت شعارو اشرارو بې لارو جګړه مارانو چې ناوړه ارادې یې درلودې، د مخنیوي کوښښ وکړ او د اسلامي همت او غیرت له مخې یې د مقابلې شعار ورکړ او خپل ژوند یې د مملکت د پرمختګونو او د اولوالامر له پاکو هیلو ځار کړ او د ځان لپاره یې تلپاتې ژوند او تاریخي نېکنامي تر لاسه کړه.
نوموړي نېکمرغه یادګار او ویاړ د ۱۳۰۴ لمریز کال د جوزا په ۲۳مه جوړ شو چې د وطن راتلونکی نسل د حقیقت د لارې د هغو وطن‌دوستانو او پوهه خوښوونکیو سربښندنو ته په درنه سترګه وګوري او افغان بیدار او حق پلوه وګړي د خپل ویاړ لامل او لارې مشال و ګرځي».
د افغانستان د پوهې او پرمختګ د لارې شهیدان د لوګر حاکم محمد عمر د احمدشاه خان خواجه زاده زوی، ملکي غونډ مشر ببرک خان د مزک زوی، ملکي کنډک مشر قومي خان عبدالکریم د سردار عباس خان ځدران زوی، ملکي کنډک مشر جان علي خان د حاجي محمد خان هزاره زوی، ملکي ټولی مشر جان محمد خان د مهر علي خان هزاره زوی، د تنیو د قوم خان وربښمین خان د بازګي زوی، قومي ملک مکرم خان د زمبر خان وزیري زوی، نیاز میر خان د ولي خان وزیري زوی، ملک محمد خان د ولي داد خان وزیري زوی او داسې نورو څخه عبارت دي...
د دېوال په کښتنۍ برخه کې د اماني دولت نښان چې له ۱۳۰۱ لمریز کال راهیسې د دوه تورو او تاج لرونکې خولۍ چې د غنمو وږي ترې را چاپېره شوي دي، پر دېوال رسم شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# یو څو پوښتنې!

حفیظ الله تراب

**ټولو نه مخکې ستړي مه شئ، د پاکستان له سفر نه په خیر راغلئ، زه باوري یم، چې ستاسې هیئت به د ښو لاسته راوړنو سره راغلی وي، ځکه ستاسې په ډله کې ډېری داسې خلک وو چې د هېواد له عزت او خپلواکۍ سره ډېره مینه لري، زه خبر شوم، چې تاسې د سولې د راوستلو په برخه کې هلته تللي وئ؟**

**- همداسې ده موږ ددې لپاره تللي وو چې په افغانستان کې خدای سوله راولي او دا زموږ مسوولیت دی چې په دې برخه کې باید هلې ځلې وکړو.**

**- ډېر ښه، ډېر ښه، خو دا راته ووایاست، چې تاسې هلته چا لېږلي وئ، حکومت که ولس؟!**

**- له حکومت سره خو زموږ دښمني ده، موږ یوازې خپل ولس ته په درنه سترګه ګورو!**

- ستاسې خبره خو دا مانا لري، چې د افغان حکومت له اجازې پرته مو هلته تشریف درلود او په دې سره مو حکومت ته یو ډول چیلینج ورکاوه چې دا دی موږ کولای شو د حکومت له دوښمنانو سره معاملې پیل کړو او که ولس لېږلي یاست، نو ولس خو له تاسې هېڅ خبر نه دی او نه هم ستاسې له ولس سره څه کار شته، سهي خبره خو دا ده چې پخپل سر مو ور هی کړي و. څه دا هم پروا نه لري، خو د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر سره چې تاسې په کومه غونډه کې ناست وئ، نو داسې ښکاره کېده، لکه یو ښوونکی چې شاګردانو ته لکچر ورکوي، هغه پورته او تاسې یې لاندې کېنولي وئ، آیا تاسې ته ځانونه بد نه ښکاره کېدل؟!

- ولا دې ته خو هلته زموږ دومره پام نه و، خو وروسته چې موږ په رسنیو کې خپل انځورونه ولیدل، نو رښتیا هم موږ ډېر سپک ښکاره کېدو.

- مننه، د قریشي صیب د خبرو عمده ټکی دا و چې موږ او تاسې ډېر پخواني دوستان یو، خو دا بل خوک دی چې زموږ او ستاسې اړیکې یې خراب کړي دي، په دې برخه کې ورته تاسې څه وویل؟!

- موږ ته د هغه خبره سمه ښکاره شوه، ځکه مو نو ورسره ومنله!

- ډېر ښه! له دې نه معلومېږي چې یا خو تاسې ړانده یاست او یا په پخه تیره د هغوی چوپړ کوئ؟!

- هغه څنګه؟

- هغه داسې چې په دې یو نالوستی افغان هم پوهېږي چې پاکستان له افغانستان سره هغه لوبې کړې چې یوه کافر به هم له بل کافر سره نه وي کړې، هره ورځ ټرکونه بمونه را لېږل، په لکونو افغانان وژل، په تورخم کې کلونه کلونو د افغانانو د ښځو او نرو بې آبي، په ښارونو کې د زرګونو ماشومانو او خلکو وژل، د افغانستان تاریخي اثار لوټل، ملي پوځ له منځه وړل او په دې ټولو بیا پخپله اقرار کول، نو چې داسې ده، تاسې ورته څه وویل؟!

- موږ یې خبره ومنله او ځکه مو ومنله که خدای وکړي په راتلونکې کې مو واک ته ورسوي!

- تاسې پخپله مرز یاد کړ، نو د مرز نه بله څه تمه کېدای شي؟!

- ښه یانې واک ته د رسېدو لپاره تاسې هر څه ته تیار یاست؟!

- رښتیا خو دا ده چې د سیاسي واک خوند تر بل هر شي ډېر دی او په اوس وخت کې چې په پخه تیره دووس نشي، نو کله دې هم دا ارمان نشي پوره کېدای.

- ډېر ښه! ستاسې په ډله کې داسې خلک هم وو چې هغوی د افغانستان د تاریخ، نوم او ټولو ارزښتونو ښکاره دښمنان دي، تاسې ته په دې ځان بد نه ښکاره کېده چې دا ډول خلک مو ملګري وو؟!

- ولا دې ته مو په لومړي وخت کې پام نه و، خو اصلي خبره دا ده چې د سړي زامن موږ سره کله دوستي کوي، موږ مجبور یو چې هر ډول خلک له ځان سره کړو، اوس یوازې همدوی را پاتې دي.

- مننه! د افغانستان ددغو دښمنانو له ډلې یوه قریشي ته وویل، د ډیورنډ له کرښې پولادي زنځیرونه تاو کړه، ددې خبرې په اورېدو مو وجدان لړ څه خپه نشو؟!

- خبره دا ده چې دلته ډېر سیاسي چارواکي وجدان لري نه، نو چې وجدان نه وي، خپه به څه شی شي؟!

- دا خو مو رښتیا وویل، اوس به راشو چې ستاسې ددې سفر لاسته راوړنه څه وه؟!

- زموږ لویه لاسته راوړنه دا وه چې له راتګ سره سم مو سمدستي د حکومت پر ضد غونډه وکړه! او دا مو ورته جوته کړه چې دا دی موږ هر څه کولای شو.

- ستاسې غونډې دا مانا لرله چې د پاکستان موخه مو ډېر ژر پلې کړه، که څنګه؟!

- خبره مو سمه ده، له یو چانه چې څه اخلې، نو یو څه به ورکوې هم کنه!

- دا خو ده، خو ټول خلک وایي چې تاسې مزدوران، پوډریان او یو څه لېونیان غونډې ته وړي وو؟!

- مزدوران او لېونیان زموږ د ټولنې تر ټولو لوی قشر دی، دوی پر موږ حق لري چې یوه ورځ کار خو ورته پیدا شي!

- خو ویل کېږي چې اوس یو شمېر مزدوران پر تاسې څارنوالۍ کې عریضه کوي، دوی وایي، زموږ مزدوري یې لا نه ده راکړې؟

- دلته وروره خلکو ژوندي انسانان تېر کړل، لوی لوی جایدادونه یې وخوړل، چا یې په... کې پړی واچاوه او بیا موږ خو د هېواد د اوباشانو او لنډه‌غرو لویې لویې ډلې لرو لاس دې خلاص وي!

- نره خبره مو وکړه! بس کارنامو ته مو دوام ورکړئ! ستاسې د ډول ډول ګلانو د کرلو په هیله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه يې هوښيارۍ ته سلام کوم!

**شیخ محمد بن راشد المختوم د دوبۍ پاچا دی. دی د نړۍ په انقلابي رهبرانو کې راځي- شیخ محمد په فبروری ۲۰۰٦م کې د دوبۍ واک تر لاسه کړ او په لسو کلونو کې یې د ریاست تقدیر بدل کړ. دوبۍ نن د سیلانیانو او سوداګرو جنت یادېږي- له ټولې نړۍ څخه یو نیم کروړ سیلانیان او سوداګر هر کال دوبۍ ته راځي.**

**دا د هوټلونو، موټلونو او سودا کولو ښار هم دی، دا د سپورت د مینه والو او لوبغاړو وروستی منزل هم دی او د عیاشیانو جنت هم، د دوبۍ رقبه ۴۱۱۴ مربع کیلومتره او نفوس یې نږدې دوه نیم میلیونه دی. موسم یې تود او ځمکه یې شګلنه ده، خو سربېره پر دې یې ۸۳ اربه ډالر GTP، هر یو کس یې ۲۴ زره ډالر عواید او سوداګریز حجم یې یو عشاریه ۴ کرب درهم دی. افغانستان یې د رقبې او ابادۍ په پرتله ۷۰ ځله لوی دی خو کاروبار یې پېنځلس چنده کوچنی دی، ولې؟ ځکه چې دوبۍ د شیخ محمد بن راشد المختوم په څېر واکمن لري، خو موږ له داډول ځیرکو خلکو څخه محروم یو.**

په شیخ محمد کې داسې څه خوبي ده چې له مخې یې دوبۍ د نړۍ تر ټولو نوی پرمختللی ریاست جوړ کړ او زموږ په واکمنو کې داسې څه خامي ده چې له مخې یې زموږ هېواد پرمختګ نه کوي؟ په شیخ محمد کې درې خوبۍ دي، نړۍ کې که هندو وي، سېکهـ وي، عیسوي یا یهودي وي، هغه یې له بریا او هنر په تر لاسه کولو او زده کولو کې ځنډ نه کوي. شیخ ته چې په لسو کلونو کې د نړۍ له کوم هېواد او شخص نه د بریا نسخه تر لاسه شوه هغه سم له واره تر لاسه کړه. بله دا چې دی له دې ځیزونه سم له واره ((امپلي مېنټ)) کوي، مشوره کوي، پرېکړه کوي او کار پیلوي. هغه زموږ په څېر بحث مباحثه، صلاح مشوره او د بوټانو په انتخاب کې وخت نه ضایع کوي او د هغه درېیمه خوبي د هغه ځانګړې مفکورې دي.

دوبۍ د ګلف لومړنی اسلامي ریاست و چې ټولنه یې لیبرال کړه. په هغې کې چادرې او سګرېټ څنګ په څنګ اوسي، په هغې کې جوماتونه او خرابات دواړه دي او د دواړو تر منځ د قانون دېوال ولاړ دی چې په هغې کې له سمندر لاندې هوټلونه هم دي، د نړۍ تر ټولو لوړه ودانۍ (برج الخلیفه) هم، د نړۍ تر ټولو لوی د اسانو ځغل ځای هم، روغتیایي ښارونه هم، میډیا ښار هم، نړیوالې اکاډمۍ ښار هم او د نړۍ ښایسته جوماتونه هم...

د دوبۍ سوداګریز ډګرونه د نړۍ په ۹۰ تر ټولو بوختو بندرګاهو کې راځي او په ګلف کې د سیلانیانو له لارې تر ټولو لویه مالیه او ګټه تر لاسه کوونکی ریاست هم دی.

دا ټولې لاسته راوړنې او ویاړونه د ځانګړو مفکورو ایکسپرټ هم دی او ماسټر هم. دا د شیخ ددې ځانګړو او په زړه پورې مفکورو پایله ده چې تاسې کله دوبۍ ته لاړ شئ، د کوم سړک په یوه غاړه ودرېږئ خپل کین او ښي لوري ته وګورئ تاسې ته به دا ښار له نیویارک، لندن او ټوکیو کم تر سترګو نشي. دا د هغه د ځانګړو مفکورو کمال دی، تاسې ته نن په دې ښار کې مرغان هم تر سترګو کېږي، باغونه هم، مصنوعي ابشارونه هم او اباد ساحلونه هم، دا ښار، دا ریاست د پرمختګ نوی مثال دی او ددې مثال پګړۍ د یوه شخص پر سر تړل کېږي او هغه شخص شیخ محمد بن راشد دی.

د شیخ محمد بن راشد المختوم نوې مفکورې هم په ټوله نړۍ کې حیرانتیا خپره کړې ده. هغه په دوبۍ کې د خوښۍ او زغم د وزارت جوړولو اعلان وکړ. دا وزارت به د هېواد په خوښۍ، سکون او ښکلا کې هم اضافه وکړي او خلکو ته به د زغم سبق هم ورکړي، دا وزارت که جوړ شي او رسماً کار هم پیل کړي، نو دا به د نړۍ لپاره انقلاب ثابت شي.

موږ انسانان له لومړۍ چیغې نیولې تر وروستۍ سلګۍ پورې په دې ځمکه کې یوازې درې ځیزونه لټوو، خوښي، سکون او هوساینه. موږ که یوه ورځ کینو د خپل ژوند تجزیه وکړو، نو به په دې منلو اړ شو، موږ ته د الله (جل جلا له) راکړې ډېره زیاته ده، خو سربېره پر دې هم خوشحاله، ارام او هوسا نه یو، ولې؟! تاسې ددې ولې له ځواب وړاندې یوه بله څېړنه هم وګورئ، د نیویارک وال سټریټ د نړۍ اقتصادي پایتخت دی، هلته د نړۍ تر ټولو لویو ادارو، کمپنیو او شمتنو دفترونه دي.

د نړۍ تر ټولو لوی نیویارک سټاک ایکسچېنج هم دلته دی. ددې کاروباري حجم ۲۰ ټریلیونه ډالر دی. نن نه څو کاله وړاندې چې د وال سټریټ له واکمنو او شتمنو څخه وپوښتل شول ((آیا تاسې خوښ یاست؟!)) نو د نړۍ د ۹۹ عشاریه ۹۹ سلنه شتمنو ځواب ؤ ((موږ تر ننه پورې د خوښۍ له نعمته بې برخې یو)) تاسې وال سټریټ پرېږدئ! تاسې له خپله ځان وپوښتئ! تاسې له خپل شاوخوا خوشحاله خلکو وپوښتئ! تاسې ته به په دوی کې هم تر ډېره پورې خلک ژړ رنځ لرونکي، دردمند، مړاوي او پخپل ذات کې تنها تر لاسه شي. ولې؟! هېڅا تر ننه پورې هغوی ته د خوشحالۍ په اړه نه دي ویلي، چا ورته د خوشحاله کولو هېڅ روزنه او سپارښتنه نه ده ورکړې. چا هېڅ پوه کړي نه دي چې د زغم او خوښۍ خپلو کې ژوره اړیکه ده، څومره چې خپل زغم او برداشت پسې ډېروئ، په خوښیو کې به مو هومره اضافه کېږي او چا ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم نه دي ښودلي، برداشت د انسان ذاتي صفت کم او د ټولني خوبي زياتوي. که ستاسي سړک، کوڅه، ښوونځی، دفتر او ستاسي په مارکيټ کي زغم نه وي، نو ستاسي د ذاتي زغم آبي به ژر للمه شي، تاسي که هر څو زده‌کړيال او مهذب ياست، ستاسي زغم به ځواب ورکوي. زه خپله په ذاتي کچه د برداشت د بحران ښکار کېږم.

ماته به غوسه نه راتله، ما به په لويه خبره خندل او زغمله به مي، ما به ۹۰ سلنه ټيليفوني زنګونه اخيستل، د برېښنا ليکونو ځواب به مي ورکاوه او پيغامونه به مي هم لوستل، خو له تېرو څو مياشتو محسوسوم چي اوس په غوسه کېږم. معاينات مي هم وکړل. ويني فشار مي هم نورمال و. شوګر هم عموماً سمېږي، الحمد لله کومه کاروباري، کورنی او ټولنيزه پرېشاني هم نشته، خو سربېره پر دي بيا هم راته غوسه راځي، زغم مي کمېږي، ولي؟! زه چي کله هم په دي ټکي فکر کوم يوازي يو ځواب تر لاسه کوم ((کله چي په ښار کي زغم نه کېږي، کله چي خلک په لارو کوڅو کي يو بل وهي او سره ټکوي، نو بيا عام انسان تر کومه وخته خپل زغم سنبال کړي!)).

ماته له خپل مثال څخه محسوسېږي، چي زغم د خلکو مسئله نه ده دا د رياستونو ستونزه ده او تر هغه وخته پوري چي رياستونه زغم او خوښی دواړو ته هومره اهميت او پاملرنه ورنکړي څومره چي معارف، صحت، انصاف او دفاع ته ورکوي. تر هغه وخته به په خلکو کي خوښي او زغم پيدا نشي، تاسي خپله فکر وکړئ! په هيواد کي چي هر شخص، هر شخص ته کافر، بې ايمانه، منافق، دله- دووس او... وواېي، نو خلک به يي تر کومي پوري وزغمي. تاسې د خوښی تر لاسه کولو لپاره د يو غر په لمنه، کوم سيند په غاړه، کوم ريستورانټ، چای‌خونه، سينما، لايبرېري او يا کوم جومات کي ناست ياست او ناڅاپه مو يو شخص مخي ته راشي درسره احتساب پيل کړي، نو تر څومره پوري به خوښ پاتي شي!

زه تېرو ورځو کي خپلي لور سره يوې آيسکريم خوني ته ولاړم موږ قابونه په لاس کي نيول چي يو ښاغلی د هوايي سفرونو په اړه د فتوي اخيستو لپاره را ورسېد، ما ورته په عاجزی سره عرض وکړ ((صاحب! زما لپاره د آيسکريم دا قاب د نړۍ له ټولو ډګرونو ډېر قيمتي دی، تاسي مهرباني وکړئ ما مي له خپلي دي څلور کلني لور سره يو ځای خوشحاله پرېږدئ!)) هغه ښاغلي خو خوله ورانه کړه او ولاړ، خو زما خوښي يي را ترخه کړه.

د خوښيو او زغم دي کوچنيو- کوچنيو شېبو ساتنه او خوندي کول په هر حال د رياستونو مسووليت دی، ولي؟! ځکه چي دا دواړه ټولنيز کلتور ته محتاج دي او دا کلتور رياستونه را ولاړوي او زېږوي. دا د خلکو د وس خبره نه ده.

له تېرو ورځو راهيسي د خوښی په شپږو بنسټي ټکيو د طبي څېړنو له لوستو سره مخ شوی يم. دې څېړني ښودلي ده چي د خوښی په شپږو عناصرو کي خوب په لومړي هغه کي ځي، تاسي چي تر څو پوره او ژور خوب وانخلئ، تر هغي پوري به مو په جسم کي د خوښی نښي پيدا نشي. بل عنصر ورزش دی، تاسي چي تر څو پوري هره ورځ له يو ساعت څخه تر ۲ ساعته پوري ورزش ونکړئ، تر هغه وخته خوشحاله کيدی نشئ. درېيم عنصر د خدای په ذات مبارک باور او الهي ذکر دی، څلورم عنصر يي مناسب او صحت بخښونکی خوراک و. پينځم عنصر يي انساني اړيکي ول. تاسي چي تر هغه وخته پوري له هغو خلکو سره په اړيکه کي ونه اوسئ چي له مخي يي درته خوښي په برخه کېږي تر هغي خوشحاله کېدی نشئ او شپږم عنصر پکي خوشحالي وه، تاسي چي تر څو پوري خپل او خپلي کورنی اړتياوي تر سره نکړئ، تر هغي پوري نشئ خوشحالېدای.

تاسي که دا شپږ عناصر پر مېز کېږدئ، نو تاسي ته به له اړيکيو پرته نورو ټولو هغو کي د حکومت عمل او لاسوهنه تر لاسه شي.

په ملک کي چي کله د شپي تر دولس- دولس بجو پوري بازار خلاص وي، په هېواد کي د شور خلاف کوم قانون نه وي، د لاوډسپيکرو، هارنډونو او ميوزک سيستم لپاره هېڅ کومه اخلاقي طرحه او قانون نه وي او چي په يخنی کي هيټري او ګرمی کي پکي پکي نه چلېږي، نو کوم کافر به خوب پوره کړی شي؟!!

په هېواد کي چي پارک، ميدان او جم نه وي. د مزل او منډي لپاره خالي ځايونه نه وي او د سايکل څغل ځايونه نه وي او نه جوړېږي، نو ورزش څنګه ممکن دی، په هېواد کي چي د الله جل جلا له، رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه‌وو ډلي پخپلو کي ووېشل شي، د کفر فتوی چي د موبايل له سيم څخه ارزانه او اسانه شي او جوماتونه چي د الله جل جلا له پر ځای ډلو ته منسوب شي نو کوم نېکمرغه به په اطمينان سره عبادت وکړی شي. په هېواد کي چي د خرو غوښي په ښکاره پلورل کېږي، پکوړي، سمبوسي او کباب په موبل غوړو کي پخول کېږي.

سبزياني د ګټرونو په اوبو- اوبه کېږي او ريستورانټونو او دوکانونو څخه مړي مړي را وځي، نو د کوم بدمرغه خوراک به پوره شي او کله چي په هېواد کي د روزګار لاري چاري محدودي کړل شي، کارخاني بندي او پلور و پير ځايونه مخ په ډېرېدو شي. کله چي په پټي او زراعت کي کورونه او مارکيټونه جوړ شي او دوه ميليونه خلکو په هېواد کي يوازي يو څو هغه يي ماليه ورکوي، نو خوشحالي به څنګه راشي؟ خلک خپلي اړتياوي څنګه پوره کړي، په داسي حال کي چي که زغم وي يا خوښي، دا دواړه له حکومتونو پرته ممکن نه دي او شيخ محمد بن راشد المختوم په دي مسووليت پوهېدو او اخيستو د نړۍ لومړنی واکمن دی او زه ددې شخص هوښياری ته سلام کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوې لسیزې یوه چوکۍ

## هغه معما چې لا هم ناحله پاتې ده؟

ډاکټر فرقان احمد توفیر

**دا د شنونکیو چاره نه ده، دغه غوټه په تحلیل او ارزونه نشي پرانیستل کېدای، مبصرین یې پته نشي لګولی. د ټاک شوګانو د بحث موضوع نه ده، دغه حقیقت رسنۍ نشي را برسېره کولی، میډیا یې تل ته د رسېدو مخه نشي موندلی.**

**دا د لابراتوارونو اړوند کېس دی، ددې پته د وینې او غایطه موادو له لابراتواري کتنو را برسېره کېدلی شي.**

**دا چې ځینې چوکۍ سریښ لري، که د ځینو مقعدونو کمال دی چې له کلونو بلکې که د ټوکۍ مبالغې اجازه وي له لسیزو پر یوه چوکۍ یا مقام سریښ بلکې مېخ پاتې دي؟!**

که داسې نه وي سوال نه پیدا کېږي چې یو څوک دې په عبوري، مؤقت، د یوه ولسمشر دوو دورو او د بل د کاري مودې تر پایه پر یوه چوکۍ او مقام سریښ یا مېخ پاتې وي.

برابره خبره ده که سریښ وي که مېخ، هرومرو به بهرنۍ وي چې له قراره د

هغه څه چې ځانته خوښوي باید نورو ته هم خوښ کړي. ددغې تجربې برکت دی چې نیمه دړۍ واک اوس هم له ځان سره خوندي ساتي.

پوښتنه دا ده چې له بهره د چوکیو او مقاماتو له ورود سره دغه سریښ په بهر کې له پیله پر چوکیو لګول شوی که پر چوکیو د قابضو ښاغلیو له بهرنیو موادو

ښودلی. دا اوس چې اسد دانش په یوناني طبابت او درملو کې د خپل طبي اجتهاد له مخې پر ادلون بدلون د هغو قوت څو برابره زیات کړی دی، د خاکیشا مداري د مودو مجربه نسخه ننګولې ده. د خاکیشا چلېنج دا و چې که چا یې ددغو درملو له کارونې په کېڼ لاس «بلا مړی» قات کړای شو په سکه رایج الوقت پنځه سوه افغانۍ نغده جایزه یې ګټلې ده.

دانش دغه جایزه پېنځو زرو او د کیڼ پر ځای ښي لاس ته را لېږدولې ده.

ایلفي سریښ چې هېنداري، پلاستیک ان اوسپنې سره نښولی شي، په اړه یې مشهوره ده چې بله برخه به یې ماته شي، خو د ایلفي هغه به یې له ماتېدو خوندي وي، خو له دې ټولو سره د طبیعي پېښو او موسمي بدلونونو پر وړاندې یې مقاومت دومره کره نه دی ختلی، خو د چوکیو سریښ او مېخ له دې ټولو بلاګانو، آفتونو او ننګونو خوندي دی.



اوربېدو افغانستان تر اوسه د ستنې جوړېدو ظرفیت نه دی موندلی. ددغه سریښ یا مېخ د واردولو جواز او کرېډېټ د ازاد بازار په څېر د پخواني ولسمشر حامد کرزي کارنامه ده چې له ټولو دمخه یې خپله پیل کړه، څکه چې مسلمان

جوړ خپل تولید دی؟!!

ځینې کارپوهان صمد بانډ سریښ یادوي، یو شمېر نورو سریښ کمان یاد کړی چې ترکاڼانو د کړکیو- دروازو په جوړولو کې ترې کار اخیست، ځینې د کومې بلې مادې له ګډولو دغه سریښ دومره مؤثر

په دې وروستیو کې د کارپوهانو لخوا په دغه سریښ کې شوي ملاوټ ته په اشارې یو څه نباوري را منځته شوې، په دې مانا چې په ځینو مواردو کې لسیزې ته نه دی رسېدلی، خو د یو شمېر نورو په اند په دې کې د چوکۍ خاوند وضعیت رول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدني وړتيا دخيله ګڼل کېږي، همدې ته په کتو د نارينهوو په پرتله د ښځينهوو چانس ډېر ښودل شوی. په نوره نړۍ کې چې يو څوک يوه ټاکلې موده، لس يا پينځلس کاله پر يوه چوکۍ يا مقام تېره کړي، د سرکاري اعزاز وړ ګرځول کېږي، که څه هم په دغسې هېوادو کې له ملکې، پاچا يا دوو انتخابي دورو ولسمشر او صدر اعظم پر يوه چوکۍ څوک دومره موده قايم او دايم نشي پاتېدلی.

افغانستان کې د يوې ځانګړې اداري پر آغلې مشرې سربېره څلورو مرستيال وزيرانو، پينځو واليانو، دريو وزيرانو، ګڼو سفيرانو، د ځانګړيو بنسټونو، يو شمېر نورو لوړ پوړيو چارواکيو دغسې ريکارډ مات او له سره ټينګ کړی دی. پدې کې داسې يوه څېره هم ليدل کېږي چې د طالبانو حکومت کې يې هم د معينيتونو او مقاماتو له مزو او خوندونو خپله لمن، څولۍ، جيبونه، بډه او پلو ډک ساتلي دي. اصلي مسابقه او سيالي د همدغو دوو تنو تر منځ ده چې يوې يې د طالبانو له سقوط وروسته موده پر يوه چوکۍ مخ او پر يوه مقام سريښ تېره کړې او بل يې عين د طالبانو له حاکميت څخه د معينيتونو لړۍ دا دی موفقانه تر وزارت ورسوله.

طالبان نور څه غواړي چې د حاکميت معين يې په ډموکراټيکه کچه وزارت ته ورسېد، له دې بله ستره لاسته راوړنه بله څه کېدای شي؟!

ددغې پرمختيا مهم اړخ دا دی چې جندر يا جنسيت په مساوي کچه پامور ګرځېدلی، ځکه دغه لاسته راوړنه ښايي د سولې او مذاکراتو قرباني نشي، له دغسې يوې کتنې دغه معما هم حل کېدای شي چې له دوی څخه چا له څه ډول سريښ يا مېخ کار اخيستی؟!

له داسې والي به مو هرومرو اورېدلي وي چې درې ولايته يې په لنډه وقفه يا دمه وهلې، د ځنډ او دمې موخه په حقيقت کې هغه استراحت ته پام کې نيول شوی چې د نوي ولايت په فتحه کې د ستراتيژۍ يا ټاکتيک خورو ورو اجزاوو را ټولولو ته اړين پېژندل کېږي.

ددې لپاره يو سيستم په اتومات يا ډيجيټلي کچه فعال دی، داسې چې لومړی يو څوک تر غوږ په را نيولو، د درېيمې درجې، بلکې په درېيمه کې هم د خوار او ناکسه ولايت واګې يا برخليک په لاس ورکړي او داسې يو څوک چې تر دې دمه يې د دوو خرو د وربشو بېلولو کې هم ګونډه وهلې، د والي پر چوکۍ د همدغه ناکسه ولايت پر ژوند او برخليک مسلط کړی، ګويا دغه ولايت او ولس نوي نابلده والي ته د ټرېننګ لپاره په پام کې نيول شوی، څرنګه چې نوی نابلده نايي يې د يتيم پر سر زده کوي. دی هم پر دغسې يتيمو خلکو او ولايت د خپلې قصابۍ تجربه، د چور- تالان مهارتونه او د لاس صفايي چمونه پاخه او پر دېره مارۍ خپلې سترګې نورې هم سرې کړای شي.

د يوه کتاب ترون دی: «هغو يتيمانو ته چې پلرونه يې ژوندي دي.» درېيمه درجه او درېيمو کې خوار هغه هم داسې يو ولايت دی چې د کرزي کابينه کې يې د ولسمشر د دويم مرستيال په ګډون شپږ وزيران چې څلورو يې په وينه او خټه کې هم ورسره نغد شراکت درلود به نفسِ نفيس حضور درلود، ځکه خو ماته دغه قام هماغو يتيمانو ته ورته ښکاري چې پلرونه يې ژوندي دي، خو د يتيمۍ له څپېړو يې مخونه تک شنه دي.

د دمې او ځنډ يو لامل دا هم کېدای شي چې له سريښ شوي چوکۍ په پورته کولو کله ناکله د ځينو پوستکي په څوکۍ پورې نښتي پاتې شي، ځکه خو د زخمونو ملهم پټۍ ته څه موده استراحت اړين بلل کېږي.

د درېيمې درجې يا په دې کې د خوار ولايت عايد هغسې نه وي چې په کال دوو کې ترې منګول ډکه کړای شي، ځکه خو خس‌دوزيو ته هم اړتيا ليدل کېږي، يو له دې څخه د درېيمې درجې ولايت له محصولاتو لکه منو د يوې ګڅوړې پر سر پينځه افغانۍ محصول چونګۍ دی. چونګۍ محصول د پاکستان زېږنده ده، که څه هم له څه مودې يې هلته د الغاء فرمان صادر شوی، خو افغانستان کې يې تجربه اوس هم برياله پېژندل کېږي.

په شريعت کې راغلي که چا د نيکۍ تېره کېښوده نو تر قيامته چې څوک په دغه نېکۍ عمل کوي، په اجر او ثواب کې يې شريک دی او که چا د بدۍ تېره کېښوده تر قيامته يې د ګناه برخه‌وال ګڼل کېږي.

د درېيمې درجې ولايت د منو د هرې ګڅوړې د محصول چونګي برخليک د منې ګل له مشاعرې پر دغه ولس تپل شوی، شونې ده د هغه بل ولايت د سنځل ګل مشاعرې له امله دغسې يو محصول د خلکو د پښو زولنې نه وي ګرځېدلی.

څرنګه چې درېيم ګام د اصلي موقعيت په لور دی ځکه خو يې ګټنه يا غوراوی هغه ازموينه ده چې له دې دمخه يې په څومره مهارت د دوو مخکنيو بېکسه او ناکسه ولايتونو په فتحه کولو کې د خلکو غوښې په کومه وړتيا له هډوکو پوچې کړې او هډوکي په کوم هنر په بېخ شپېللي دي چې د ولسمشريزو ټاکنو کمپاين ته د غوښو پوچول او د هډوکو شپېلل له پخوا زيات اړين بلل کېږي، ځکه چې درېيم بانک هم په دغه ټس کې ډوب او کنګال شو.

د وردګو منو، د لوګر سنځلو او د لغمان بادرنګو محصول چونګی وروستی هدف نه دی، وروستی د هغو سرحدي ولايتونو فتحه ده چې د ګمرک او قاچاق بلا سرچينې په واک کې لري او زراعتي محصولات يې هم لکه جلغوزي د ګمرکي او قاچاقي عايد له لارې د سرو زرو له تول سره برابر خېژي. البته په يوه شرط چې خوستوال د جلغوزي ګل مشاعرې له تېروتنې ځانونه وژغوري.

# تور او سپين صنعت

اروابناد استاد عبدالجليل وجدي

هېواد د صنعتي کېدو د لومړنيو هڅو په مرحله کې په هېواد کې د لومړنيو کارخانو د جوړولو په وخت په بالاحصار کې د مطبعې ماشين په کار ولوېد.

اهتمام چاپ او خپرېده، ميرزا د امير شېرعلي خان له وخت څخه مخکې يو ماهر خطاط و او د امير شير علي خان د واکمنۍ په وخت کې د ښې خطاطۍ او ليکوالۍ په وجه ده ته د جريدې او هم د مطبعې د اهتمام چارې وسپارل شوې. قاضي عبدالقادر پېښوری يوسفزی د دغه اخبار يو محرر و، چې اخبار ته يې مقالې ليکلې او هم يې له خارجي مطبوعاتو څخه مطالب ورته را ترجمه کول. د شمس النهار مسوول مدير معلوم نه و. د دويم کال د لسمې ګڼې په څلورو ځايونو کې د ميرزا عبدالعلي نوم ليدل کېږي. چې په دې اخبار کې يې د يوه با صلاحيته او مقتدر سړي په حيث کار کاوه او د ده له نامه سره يوازې د مهمتم کلمه ليکل شوې ده.

د اخبار مهتمم د دغه اخبار د مرام څو ټکي په لاندې ډول ليکلي دي:

اقل العباد ميرزا عبدالعلي حسب الفرمايش احباب، اخبار صدق آثار مسمی به شمس النهار را در مطبع کابل جای نموده. اخبارات صدق آثار سيستان و روس وغيره حدودات را از دفاتر سر کار و الاتبار حاصل نموده درين اخبار درج نموده خواهد شد.... سعی درين خواهد بود که خبر بازاری و پوچ هرگز درين اخبار درج نگردد...

مهربان دوستان، کرم فرمای مخلصان ميرزا عبدالعلی خان صاحب مهتمم مطبعه شمس النهار شهر کابل!

سلمه اللله بعد از سلام مدعا اينکه از ابتدای دور عالم تا ايندم گاهی اخبار در ملک افغانستان جاری نگرديده بود بلکه اکثر مردم بالکل طريقه اجرای اخبار و سليقه مهم آن هم نميدانستند. الحال که از يمن عدالت بندگان اشرف والا امير صاحب بهادر در کابل صنعت اباد افغانستان گرديدده. وضيع و تشريف اهالی اين دولت خداد داد متوجه صنايع و کسب علوم گرديدند و از عرصه دو و نيم ماه اخبار پر بهار شمس النهار درج ميگردند هم راست و صحيح و قرين قياس معلوم ميشوند...(۱۳)

لکه چې د «سير ژورناليزم در افغانستان» ليکوال ليکي: د دې جريدې ليکونکی، مهتمم يو هېوادپال سړی و. او د شمس النهار په پاڼو کې دغه موضوع په ښه ډول راښکاره کېدلای شي. د بېلګې په توګه په يو مضمون کې يې ليکي دي چې د افغانستان خلک د پنبې په کرلو کې ډېر تاوان کوي. دوی پنبه کري، مګر په خام ډول يې فرهنګستان په ارزانه بيه خرڅوي او بيا هغوی له همدغو موادو څخه رختونه او ټوکران جوړوي او بېرته يې په ډېر ګرانه بيه خرڅوي.

شمس النهار خپل خبرونه د تاريخي پېښو په توګه ليکل. کله کله خو هغه ورڅخه ډېر اوږده شوي او بې خونده شوي دي. په داسې ليکنو کې له لوستونکي څخه اصلي ټکي ورک شوي دي. هغه وخت پهه نورو هېوادونو کې هم خبرونو همدا ډول ليکنه دود وه. په عمومي ډوړل د خبر ليکنې طرز د امريکا د کورنيو جګړو په جريان کې د هغه ځای د خبريالانو له خوا بدلون و موند او د سرچپه هرم بڼه يې غوره کړه. ... (نور بيا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځوک د پوښتنې نشته!

دا ښايي د ۱۹۹۷م جون خبره ده. هند ته د خپل اقتصادي پوزيشن سنبالوني لپاره د ۵۰ اربه روپو اړتيا شوه. د کابينې غونډه وشوه، يو وزير له IMF څخه د لنډې مودې لپاره د پور اخيستنې مشوره ورکړه. بل وزير د ملي املاکو پلورنې له ادرسه تر لاسه شويو روپيو وړانديز وکړ. دريم وويل. ولې له يو ((ورور)) هېواد څخه د څو مياشتو پور وانخلو؟!! د څلورم مشوره عجيبه وه، ويل يې، موږ به په همدې هند کې له کوم لوی صنعتکار څخه پيسې واخلو، په کال، شپږو مياشتو کې به يې بېرته ورکړو. لا د نظرياتو او وړانديزونو لړۍ روانه وه چې د هند د مالي وزير چندمبرم ودرېد، له صدر اعظم څخه يې د خبرو اجازه وغوښته او بيا يې د کابينې غړي مخاطب کړل ويل يې: ((ښاغليو او آغليو! که زه درته تر دې هم څو برابره ډېرو پيسو تر لاسه کولو طريقه وښايم چې نه به يې په اينده کې بېرته ورکوو او نه پرې سود ورکول راځي، نو...)) ټولو په بې صبرۍ سره وويل: ((هو! هو! ووايئ!)).

چندمبرم د عادت له مخې د غوږ په سر لاس تېر کړ او بيا يې پيل وکړ: ((ښاغليو زما د مطالعې له مخې دا وخت په هند کې نږدې ۵ کربه روپۍ د تور بازار په شکل کې شته دی چې نه يې هندي حکومت کارولی شي او نه يې هم هغه خلک چې په ولکه کې يې دا پيسې دي، که موږ کوم داسې سکيم او پروسه وړاندې کړو چې له مخې يې دا ۵ کربه روپۍ جايز شکل غوره کړي، نو به دوه گټې شوي وي)).

هغه د يوې شېبې لپاره تم شو د برخه‌والو په څېرو يې نظر وگرځاوه په نامه يې لاسونه وتړل او بيا يې وويل: ((دوه گټې به وشي، يو خو به حکومت ته د ماليې په صورت کې له ۴ زره نيولې تر ۷ زره کروړه روپۍ تر لاسه شي بله دا چې يو کرب ۶۳ اربه ۳ کروړه او ۳۳ لکه روپۍ به له پټو اکاونټونو، غلې کړل شويو پيسو او بوجيو څخه په را وتو سرکولېشن ته راشي او...)).

يو دم يو غړی پورته شو، تېټ شو صدر اعظم څخه يې اجازه وغوښته او بيا يې چندمبرم ته په تېزه لهجه وويل: ((خو وزير صاحب، تاسې په دومره وثوق سره د ريکوړۍ دعوه څنگه کولی شئ؟!)).

چندمبرم سترگې پټې کړې د يوگايانو په څېر يې اوږده ساه واخيسته او بيا يې کرار کرار ساه ووېسته، ويې ويل: ((زه همدې لوري ته راځم)). زه فکر کوم که موږ همدا نن په ټول هند کې اعلان وکړو. چا سره چې څومره تور کاروبار او بازار دی، هغه دې ښکاره کړي، هغوی څخه دې ۳۰ سلمه حکومت ته ورکړي، ماليې وزارت ته دې وسپاري او پاتې ۷۰ سلمه دې په کاروبار کې ولگوي هغوی به هم خوشحاله شي او سرکار به هم مطمين شي)).

بل وزير وپوښتل: ((خو پدې سره به سرکار ته څومره پيسې تر لاسه شي ؟)).

چندمبرم په اطمينان ځواب ورکړ: ((موږ په ډېرې اسانۍ سره له ۴۰ تر ۷۰ اربه روپيو پورې تر لاسه کولی شو!))

يو بل وزير ودرېد، د ويلو اجازه يې واخيسته او بيا يې چندمبرم مخاطب کړ، ويې ويل: ((تا خو ويل هېواد کې ۵ کربه روپۍ د ځمکې لاندې دي، خو تر لاسه کېږي يوازې پاو کم دوه کربه؟)) چندمبرم بيا په غوږ کې لاس وواهه او صدر اعظم يې متوجه کړ، ويې ويل: ((زما له مطالعې سره سم دې پروسې څخه يوازې همدومره روپۍ را وتلی شي، ځکه د هند دننه يوازې دوه کربه روپۍ پټې دي. پاتې ۳ کربه له هېواده بهر په سيکرېټ اکاونټونو کې پرتې دي. د هغو تر لاسه کولو لپاره به کوم بل وخت، کوم بل سکيم جوړ کړو)).

صدراعظم سينه وښوروله او بيا يې هغه مخاطب کړ، ويې ويل: ((خو ښاغلی وزير! ددې څه ثبوت دی چې موږ ددې سکيم اعلان وکړو او خلک د تور کاروبار پيسې د وزارت خزانې په خدمت کې وړاندې کړي)).

چندمبرم په اثبات کې سينه وخوځوله، ويې ويل: ((هو! دا خبره هم وضاحت طلبه ده. زما وړانديز دی چې خلکو ته تر ۳۱ دسمبر ۹۷م پورې وخت وټاکل شي. دې موده کې چې کومو خلکو له دې پروسې څخه گټه پورته کړه ، ښه، کنه په غبرگون کې به که له لومړۍ جنورۍ ۱۹۹۸م څخه هر چا سره تور کاروبار رسوا شو هغه به په عين موقع نيول کيږي او د بند سزا به ور ته ورکول کيږي، ټول همدومره وو)).

چندمبرم تېټ شو، له ټولو يې مننه وکړه او کېناست. او بيا د کابينې غونډې پای ته رسيدو سره سم په هند کې د (Uolantory Disscluser of Income Skeem) (UDIS) اعلان وشو. رشوت خورو، مخدره موادو او نشه‌يي توکيو پلورونکيو، غلو او... ته تر ۳۱ دسمبر پورې وخت ورکړل شو. په ټول هيواد کې يې خپل مراکز جوړ کړل چې هلته خلک د تورو کاروباريانو په اړه خبر او راپور ورکړي او بيا له دې وروسته د ورځپاڼو رپورټرانو وليدل.

د تور بازار او کاروبار خلک درې درې ساعته په کتار کې ودريدل پيسې يې جمعه کولې تر دې چې د ۳ جنورۍ ۱۹۹۸م پورې له حساب سره سم په حکومتي خزانه کې نږدې ۷۰ اربه روپۍ جمعه شوې. د چندمبرم د وړاندوينې له مخې يو کرب ۶۳ اربه ۳ کروړه ۳۳ لکه روپۍ له بوجيو را ووتې ملي اقتصادي دايرې ته ننوتې چې په دې پيسو به کاروبار کېږي، بې روزگاري به له منځه ولاړه شي. روپۍ به له يو لاس څخه په وتو بل لاس او بل څخه بل لاس ته ځي او د هند د اقتصادي پرمختگ مزل به لا چټک شي. په دې ډول چندمبرم د هند په ورځپاڼو کې د هند د اقتصادي تاريخ اتل ونومول شو، خو دلته هېڅوک د پوښتنې نشته!!!



عزيزانو د وزيرو مسيدو غيورو مشرانو!
السلام عليکم و رحمة الله و برکاته
ستاسې مېړانه او شجاعت د خپلواکۍ په جگړو کې ماته ځرگند دی. نن بيا د گټنې تاريخي شېبې دي، موږ تاسې ته هماغسې غيرت او مسوووليت را په غاړه دی. اعليحضرت غازي امان الله خان د يوه سارق او قاطع الطريق له لاسه له سلطنت بې برخې شو چې له امله يې د وطن هره برخه د بې اتفاقۍ په اور کې سوځېږي. افغاني ننگ او غيرت له موږ ټولو څخه دا تقاضا کوي چې په اتحاد او اتفاق سره وطن او ملت ته له وراني فتنې څخه نجات ورکړو.

والسلام
محمد نادر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ديني ارزښتونه باید د واک په منډه کې د کمپاین پښو ته ټیټ نکړای شي

**څه فرمایې علمای کرام دین، و مفتیان عظام شرع متین اسلام په جواز او عدم جواز د دې کې چې قرآنکریم ټاکنیزه نښه ګرځېدلی شي؟**

شهرت ننګیال

شهید عزیز الرحمن الفت چې د دموکراسۍ لسیزې په آزادو خپرونو کې فعال نقش درلود، په افغان ملي جریده کې یې (دین را از خدمت ارتجاع و استبداد نجات داد) تر سرلیک لاندې یوه انقلابي لیکنه راغلې چې سیاست، سیاسي موخو او ګټو ته یې د دیني ارزښتونو د استخدام یو تحقیقي مستند وړاندې کړی او ددربار له چوپړ یې د ملایانو او دین د ژغورلو نسخه ښودلې ده، په دغه لیکنه کې د دغه چوپړ خطرناکه پایلې او په اوږده مهال کې ټولنیز او سیاسي زیانونه په ګوتو شوي، چې ناوړه عواقب یې اوس موږ د سر په سترګو لیدلی او لایې ګورو.

د پاکستان په پارلماني ټاکنو کې جماعت اسلامي «کتاب» خپله ټاکنیزه نښه ګرځولې وه، که څه هم ظاهر ته په کتو، ترلې کتاب برېښېده خو نقشه او انځور یې قرانکریم ته ورته ګرځولی و، بین السطور او بادي النظر کې داسې ښودل کېده، بلکې تبلیغ کېده چې کتاب ګنې قرانکریم دی. دا همه هغه ده چې دین یې سیاست ته د استخدام په شر اړولی او دیني مقدسات یې د خپلو سیاسي اوکمپایني موخو لپاره د سیاست او اقتدار پښو ته ټیټ کړی دی. همغه وه چې په محکمه کې د کتاب په بله د جماعت ټاکنیزه نښه له حقوقي او قانوني اړخ چېلنج کړای شوه او محکمې د جماعت لپاره دغه نښه ممنوع وګرځوله.

لوړه یادونه د دې لپاره ده چې د ټاکنوکمېسیون، دولت جوړوونکي یا په بله وینا د محمد اشرف غني ټیم ته کتاب نه بلکې په رحیل کې پرانیستي قرانکریم د ټاکنیزه نښې په توګه منظور کړی دی.

دا همه تاریخي تېر ایستنې ته ورته ده چې د هند په وېش کې یې د پښتنو د وېش د توطئې پلې کولو ته په تولیوپښتنه کې یوې خوا ته قرانکریم او بلې ته د هندوانو مذهبي کتاب ایښی و، د همدغه توطئې له امله وه چې پښتانه اوډ لوی افغانستان سیمې پر پاکستان پورې وتړل شوې، چې له امله یې لا هم پښتانه د همغه توطئې له عذاب او غضب ځانونه نشي ژغورلی.

سیاست، سیاسي موخو او ګټو ته د دین او مذهب استخدام زموږ هېواد نه بلکې ټوله سیمه ناکراره ساتلې او له تاریخ سره یې د جګړې ډګر ساتلی دی، د واک او سیاسي موخو لپاره د وسیلې په توګه د دین او مذهب چوپړ د همدغسې ذهنیت زېږنده ده، چې دین یې د واک منډې، د سیاست خدمت او د کمپاین چوپړ ته ټیټ کړی دی.


د کالم لګی، بیله شرحې:


میرویس میدان ته څیرمه دهبوري کې پر دېوال یو شعار دوله لیکنه راغلې: (مرګ به امریکا و حمایت ګران آن، بغیر استاد سیاف).



دانش فرهنګي مرکز- لغمان

په لغمان کې د مجهز (الفت عامه کتابتون) لرونکی دانش فرهنګي مرکزي چې تل یې د هېواد په فرهنګي، ادبي او علمي برخه کې د علم مینه‌والو ته غونډې، سیمینارونه او علمي بحثونه جوړ کړي دي، ستاسې لپاره جوړ شوی او ستاسې په مرستو به چلېږي...





## د لوی اختر په اړه د پیر فضل الله تائب قادري مومند، د روحاني شخصیت اروابناد کان مولوي صیب ځایناستي پیغام

لوی اختر مو بختور ، حجونه او قرباني مو قبولې شه. پدې هیله چې دا اختر په هېواد کې د سولې د راتلو او له غمیزو د ولس د وتو پیلامه شي.

## د لوی اختر په اړه د افغانستان د سوله‌ییز بدلون بنسټ د مشر فاروق اعظم پیغام

الله تعالی دې وکړي چې دا لوی اختر د سولې له نېکمرغۍ سره راشي، پدې هیله چې د اختر د خوشحالیو او برکتونو تر څنګ د سولې له خوند او د سولې له ژونده برخمن شو.

سردار محمد همدرد/ د دارالانشاء رییس


اختر د ټولو بختور شه

ioglobal

Internet Services Through Fiber Optic

Wireless Communication Solutions

Wired and Wireless Backbone Solutions

Data Center Engineering and Design

IT Infrastructure Solutions

Security Solutions

Storage Solutions

High-Availability Solutions


Software Solutions and Software Systems

Web-based Information Solutions

House No 151, Mayoni Street on Sherpur Main Road, Kabul | Afghanistan

ORZALA NATURALS اورغلا طبیعی

افغانی، طبیعی، گیاهی



Between Street 1 & 2, Taimani Main Road, Kabul, Afghanistan

Kart-e-4, Next to Allama Higher Education Institute 0799143113

کارته چهار، د حوزې سړک، د علامه لوړو زده کړو موسسې تر څنګ

اختر مو نیکمرغه

اوربند ستاسې د ټاکنیزو کمپاینونو تبلیغات په وړ بیه خپروي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**